PROPERTY OF ACKU

ارادهٔ DAILY

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

۹۶۲

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۶۲ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۲۹ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د مرغومي ۲۷ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق صفرالمظفر ۱۲ مه د ۲۰۱۱ د جنورۍ ۱۷ مه

افزایش حملات انتحاری و کاهش تلفات ملکی

تلفات افرادملکی، پولیس ملی، مخالفان مسلح و وقوع حادثات جرایم جنایی در هفتهٔ گذشته، نسبت به هفتهٔما قبل آن، کاهش یافته است. زمری بشری سخنگوی وزارت داخله، دیروز درکنفرانس هفته وار، با ابراز این مطلب گفت که هفتهٔ گذشته در حادثات مختلف، ۲۶ فردملکی به قتل رسیده و ۴۴ تن دیگر مجروح شده اند. وی افزودکه بر این اساس، در تلفات ملکی نسبت به هفتهٔ ماقبل، ۳ درصد کاهش آمده است. به گفتهٔ بشری، بیشترین تلفات افرادملکی، در نتیجهٔ حملات انتحاری وارد شده که در کابل، قندهار و ارزگان به وقوع پیوسته است. وی افزود که طی هفتهٔ گذشته ص۳

لویې څارنوالۍ تېرې ټاکنې یو ځل بیا نامشروع وګڼلې

سره له دې چې راتلوونکې اوونۍ به د افغانستان نوې ولسي جرګه پرانیستل شي، د افغانستان د لویې څارنوالۍ چارواکي وایي، د ولسي جرګې تر پرانیستلو وروسته هم محکمه کولای شي، چې تورن وکیلان محاکمه کړي او ورځخه پوښتنې وکړي.

لوی څارنوال محمد اسحاق الکو د یکشنبې په ورځ په کابل کې په یوه خبري غونډه کې وویل، چې په دغو ټاکنو کې دوی ته د درغلیو او سرغړونو په اړه تر ۴۵۰۰ ډېر سندونه په لاس ورغلي، نو ځکه دغه ټاکنې دوی ته مشروعیت نه لري.

ښاغلی الکو وویل: "مور څانګړی دریځ لرو، پر دغو ټاکنو څارنوالي عقیده نه لري، اسناد پر پیدا شوي او زاتول کړي مو دي او پرېکړه مو وکړه، چې دا یو ځل محکمې ته لاړ شي، محکمه به قضاوت وکړي، مور طرف واقع شوو، په دغو ټاکنو کې درغلۍ او ناوړه ګټه اخیستل شوې ده. زمور په نظر مشروعیت نه لري، په همدې خاطر مو دعوه وکړه او محکمې ته مو ولیږله." د افغانستان د سترې محکمې په وړاندیز او د ولسمشر حامد کرزي په منظوري د ټاکنیزو شکایتونو، درغلیو او سرغړونو د څېړلو لپاره یوه ځانګړې محکمه جوړه شوې. دغه ۳ مخ

ادامهٔ تظاهرات شهریان هرات بر ضد ایران

شهریان هرات دیروز بار دیگر بر ضد ایران دست به مظاهره زدند و خواستار رهایی تانکرهای تیل گردیدند. ایران از یک و نیم ماه بدینسو، حدود دو هزار تانکر تیل تجار افغان را در سرحدات خود متوقف ساخته و این کار، نه تنها به تاجران ضرر رسانده، بلکه باعث بلند رفتن سرسام آور قیمت تیل در کشور نیز شده است.

مظاهره کننده گان که تعداد شان به صدها تن می رسید، شعارهای (مرگ بر احمدی نژاد و خامنه یی، ما خواهان آزادی تانکرهای خود هستیم) را سر داده و صبح دیروز از چوک شهر به سوی قونسلگری ایران راهپیمایی نمودند.

آنها که اکثر شان را جوانان و دکانداران تشکیل می داد، می گفتند که نباید ایران با سیاست هایش، مردم افغانستان را قربانی نماید.

محمد عباس یکتن از دکانداران شهر هرات به آژانس خبری پژواک گفت: "هدف ما خشونت نیست، ما می خواهیم به ایران بگوییم که چرا تانکرها را اجازه نمی دهد که به افغانستان بیاید."

وحید عمری یکی از جوانان اظهار داشت که از یکسو تعداد زیادی از شهریان هرات به علت افتیدن پایه های برق تمدیدی ترکمنستان با مشکل برق مواجه بوده و از سوی دیگر، ایران تورید تیل را توقف داده است.

یک لیتر تیل در گذشته در هرات ۳۸ افغانی بود، اما بعد از توقف تانکرها اینک به ۶۲ افغانی رسیده است. عمری علاوه کرد: "دولت ما هم هیچ کاری در مقابل ایران کرده نمی تواند، باید دولت یک موضع قاطع و سرنوشت ساز را پیشه کند."

این مظاهره حوالی ظهر دیروز به شکل مسالمت آمیز در حالی پایان یافت که سرک اصلی مرکز شهر (جادهٔ ولایت منتهی به قونسلگری ایران) مسدود گردیده بود.

مظاهره کننده گان می گفتند که آنها به شکل خودجوش دست به این کار زده اند.

اما مظاهرهٔ مشابه پریروز که از سوی دفتر حزب افغان ملت در شهر هرات راه اندازی شده بود، طی آن نیز علیه ایران شعار داده شد و سیاست آن کشور در قبال توقف تانکرها و اعدام افغان ها در ایران تقبیح گردید.

طی دو هفتهٔ گذشته، چهار مرتبه تظاهرات علیه ایران در کابل نیز راه اندازی شده و طی آن، مردم اقدام ایران در توقف ترانزیت مواد سوخت و کشته شدن ص۳

ښکلو نجونو ته کتل روغتیا ته تاوان لري!؟

د هسپانیا د والنسیا پوهنتون څېړونکو په یوه نوې څېړنه کې جوته کړې چې له خورا ښکلو او خوش اندامه نجونو سره لیدل او ګرځېدل؛ د سړیو د زړه لپاره د سختو صدمو او ناروغیو د رامنځته کېدلو لامل کېږي.

له یوې ښکلې او ښایسته نجلۍ سره مخامخ کېدل په سړیو کې د هورمونونو تولید دومره ډېروي چې حتا زړه ته د تاوان رسېدو لامل کېږي. هغه فشار چې په دې وخت کې پر سړي وارد ېږي د هغه اغېز په ډول دی لکه له یوې ونې چې د رالوېدو په وخت کې یې حس کوي.

په دې څېړنو کې په ۸۴ محصلینو څېړنې وشوې، د دې محصلانو د کورټیزول کچه له یوې ښکلې جینکۍ سره تر مخامخ کېدو مخکې او وروسته اندازه کړای شوه. د یادولو وړه چې کورتیزول یو مهم هورمون دی چې بدن د انرژۍ د تجزیې، د ژوندي پاتې کېدو او د درد د زغملو لپاره هغه ته ارتیا لري، خو له حده زیات ډېرښت یې د یوه موزمن فشار لامل کېږي.

دې څېړنو وښوده، چې ۳ مخ

به زودی تیل مورد نیاز افغانستان از روسیه و قزاقستان وارد می شود

وزارت تجارت و صنایع افغانستان می گوید که تلاش می شود، تا از روسیه و قزاقستان به مقدار زیاد تیل به افغانستان وارد شود. انوارالحق احدی وزیر تجارت و صنایع افغانستان دیروز به خبر نگاران گفت، به این دو کشور پیشنهادهایی شده است و امیدوار است، که آنها جواب مثبت بدهند. داکتر احدی همچنان گفت، ایران بر خلاف تمام قوانین و نورم های موجود، ترانزیت واردات مواد نفتی به افغانستان را متوقف نموده است. وزیر تجارت و صنایع می گوید، هنوز هم مذاکره با جانب ایران ادامه دارد، تا صدها تانکر تیل متوقف شده را اجازهٔ عبور از آن کشور بدهد. به باور احدی، تاجران مواد نفتی در افغانستان تلاش دارند که از سایر کشورها تیل مورد ضرورت را وارد نمایند، تا قیمت تیل پایین شود.

تطبیق دموکراسی غربی در سرزمین هندوکش ممکن نیست

وزیر دفاع آلمان نسبت به اینکه سلاح های هسته‌یی به دست افراطیان بیفتد، هشدار داد.

کارل تئودور تسوگوتنبرگ، وزیر دفاع آلمان، نسبت به دستیابی افراطیان افغان به سلاح های هسته‌یی هشدار داد.

به گزارش خبرگزاری آلمان، وزیر دفاع آلمان گفت، پایان جنگ افغانستان تنها با ابزار نظامی ممکن نیست. آزادی افغانستان تنها از طریق کار گروهی قدرت های نظامی و غیرنظامی امکان پذیر است. وزیر دفاع آلمان که در جمع سوسیال مسیحی های هم حزبی خود سخن می‌گفت، نسبت به این تصور که می‌توان در هندوکش دموکراسی طبق الگو های غرب ایجاد کرد، هشدار داد.

این وزیر آلمانی اعتراف کرد: ما نمی توانیم به بالاترین سطح از حقوق بشر و حقوق زنان در افغانستان دست یابیم.

وی گفت: با این حال خروج نیروهای دفاعی از افغانستان تنها در شرایطی امکان پذیر است که شرایط این اجازه را به ما بدهد.

گوتنبرگ بدون این که زمان مشخصی را برای عقب نشینی نیروهای آلمان ص۳



د امید عملیات نهه نوم او بدې پایلې ۲

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

ویده دولت، ویښ خو ناتوانه ولس

تېل په افغانستان کې د ژوندانه له مهمو اړینو توکو څخه ګڼل کېږي. زمور په هېواد کې خلک برېښنا، ګازو او دسون نورو توکو ته لاسرسی نه لري، یوازې همدا تیل دي، چې تول تري دسون لپاره ګټه اخلي. زمور په هېواد کې همدغه د تیلو زیاته کارونه د دې لامل ګرځېدلې، چې د دغه توکي ارزښت او اهمیت په لومړۍ درجه کې راشي او په ببلانس کې یې هر ډول بدلون، د افغانانو د ژواندانه په ټولو اړخونو باندې خپلې اغېزې وشیندي، همدا اوس چې د ایران هېواد په پولو کې د افغان سوداګرو د تیلو ټانکرونه تم دي، د افغانستان په بازارونو کې د تیلو په بیه کې زیات منفي بدلون راغلی، چې ورسره جوخت د ژوندانه د نورو اړینو توکو لکه اوړو، غوړیو، وریجو، کرایو او داسې نورو په بیو کې هم د پام وړ زیاتوالی تر سترګو کېږي. له یوې میاشتې راهیسې د افغان سوداګرو د تیلو ټانکرونه د ایران په خاوره کې تم دي او ایران اجازه نه ورکوي، چې د غه تیل افغاستان ته ورسېږي، ایراني چارواکي وایي، چې د غه تیل په افغانستان کې بهرنیو ځواکونو ته لېږدول کېږي، په داسې حال کې چې هغوی د تیلو په ګډون د خپلې اړتیا وړ شیان د کراچۍ بندر له لارې افغانستان ته لېږدوي. له دې امله د دغه اقتصادي بندیز ټولې اغېزې پر افغان بېوزلو خلک باندې پرېوځي، چې د یوې ګولې ډوډۍ د پیدا کولو لپاره له سهاره تر مابنامه سرګردانه وي. همدا اوس، پر افغانستان باندې د ایران هېواد د دغه اقتصادي بندیز له امله د هېواد په دننه کې د تیلو او نورو توکو په بیو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. لکه څرنګه چې اوس د یو لیتر تیلو بیه ۶۵ - ۷۰ افغانۍ ده، حال دا چې یو میاشت مخکې د یو لیتر تیلو بیه ۴۰ - ۴۵ افغانۍ وه. دغه لړۍ د نورو توکو په بیو کې هم خپل تاثیر کړه کړی، لکه څرنګه چې تر دغه بندیز وروسته، د نورو خوراکي او اړینو توکو په بیو کې هم له ۱۵ تر ۲۰ سلنو زیاتوالی راغلی، چې بیا هم د دغو ناوړه سیاستونو لومړي قربانیان زمور مظلوم او بېوسه ولس او خلک دي. له دې نه که تېر شو، ایرانیانو لاهم بسنه نه ده کړې، اوس یې زمور د ولس سپکاوي ته ملا تړلې ده، تېره پنجشنبه هغه مهال چې یو شمېر افغانانو د خپل روا حق د ترلاسه کولو په موخه، چې د افغان سوداګرو د ټانکرونو پر ېښودل وو، په کابل کې د ایران سفارت مخې ته په لاریون راوتلي وو، د ایران سفارت مخې ته په لاریون راوتلي وو. دا په داسې حال کې ده، چې د ایران له دومره ناکرده سره سره افغان دولت بیا هم ایران، خپل دوست ګاونډی هېواد بولي او د دې پرځای، چې د خپل مظلوم ولس پر مظلومیت وژاړي او په دې اړه کره او وړ اقدام ترسره کړي، ځان یې داسې چوپ او خاموش نېولی لکه چې هېڅ هم نه وي شوي. داسې ښکاري، د افغان دولت مسوول چارواکي په دې اړه شفافه پالیسي نه لري او داسې اقدام ته زړه نه ښه کوي، چې ایران دولت، چې دوی ته د دسترخوان په نامه رشوت ورکوي، پرې خپه شي؟! کله چې دغه موضوع په رسنیو کې توده شي، یوازې د څو نمایشي غبرګونونو په ښودلو سره د خپلو خلکو په سترګو خاورې شیندي او بس.

پر دې بنسټ ویلای شو، چې که افغان دولت په دې اړه کره او شفاف سیاست خپل نه کړي، یوازې د خلکو په لاریونونو باندې ستونزه نه اوارېږي، افغان دولت ته په کار دي، چې د بالمثلو لارو چارو په لټولو او کاري اقداماتو په ترسره کولو سره پر ایران دولت باندې فشار راوړي، څو د افغان سوداګرو دغه ستونزې ته د پای ټکی کېږدي، له دې پرته به نه یوازې ستونزې پر خپل ځای پاتې شي، بلکې ایران دولت به پر نورو داسې کړنو او اقداماتو لاس کړي، چې لمنه به یې د هېره پراخه او د افغانستان پر اقتصاد باندې به یې زیانونه تر دې هم کره وي.

د امید عملیات بشه نوم او بدې پایلې

عادل عزیزی



عملیات په بریالی توګه ترسره نه شول او زیاتو خلکو ته یې زیانونه واړول؟ دا هغه پوښتنه ده چې ټول یې په ځواب پوهېږي. همدغه جنګ دوی افغانستان ته رواست، همدوی یې تنظیموي او په دروغجنه توګه بیا ورسته له هغه چې په کندهار کې چاونو او د قومي او دولتي چارواکو ترور زور واخیست او داسې ګنګوسې اوربدل کېدې چې په دغه ولایت کې به پراخ عملیات ترسره کېږي، له همغه وخت نه له خلکو سره دا اندېښنه وه چې دغه عملیات به دوی ته د ګټې پر ځای تاوان ورسوي، خو برعکس د کندهار د ولایتي شورا مشر دغه عملیات اړین بللې وو او له افغان او نړیوالو ځواکونو یې غوښتي وو، چې په دغه ولایت کې عملیات ترسره کړي ترڅو سیمه د مخالفینو له ګواښ څخه وژغوري، خو بلاخره په کندهار ولایت کې د امید په نامه عملیات ترسره شول چې د ولسمشر د یو مشاور د یوې سروې له مخې د کندهار ولایت اوسېدونکو ته یې زیات زیانونه اړولي دي، دغه عملیات هغه وخت ترسره شول چې د خلکو کروندو حاصلات ورکول. د دې سروې له مخې د دې عملیاتو په ترڅ کې یوازې د کندهار ولایت د اوسېدونکو باغونو او کروندو ته یې د سل میلیونو ډالرو په ارزښت زیان اړولی دی. رائې اوس دا ووایو چې ایا دا عملیات به په رښتني ډول د خلکو په غوښتنه شوي وي او که ایا د یو څو زورواکو په خوښه به ترسره شوي وي. که څه هم په کندهار کې نړیوال او افغان چارواکي وایي چې عملیات یې د سیمې د خلکو په خوښه ترسره شوي او ولسمشر کرزي هم کندهار ته په یو سفر کې د کندهار خلکو ته په یوه ویناکې ویلي وو چې تر هغه به دا عملیات نه ترسره کېږي، چې ستاسو خوښه نه وي، خو د کندهار خلک وایي چې دا عملیات یې د دوی له خوښې پرته ترسره کړي دي. د راپورونو له مخې په دغه عملیاتو کې زیاتو افغان او نړیوالو ځواکونو کډون کړی و او تر پخوا په زیاتو او مجهزو وسلو سمبال وو او داسې بمونه هم په کې استعمال شوي دي چې زیات درانه او له ۱۰ دقیقو ورسته یې چاودنه کوله او زیات تخریب یې کاوه، خو داچې ولې دا همدوی دي چې وایي چې مورد دغو ترهګرو پر وړاندې مبارزه کوو او هر وخت په دې بانه چې د دوی په وینا د ترهګرو ځالې له منځه یوسي، دغسې عملیات پر لار اچوي، چې یوه ښه ښېلګه یې په لوګر ولایت کې په همدغه نامه عملیات وو چې د خروار په ولسوالۍ کې ترسره شول او کومه نتیجه یې ورنه کړه.

په دې وروستیو کې د طالبانو له خوا یو ۴۵ دقیقه یې مستند فلم هم د دا انځوروي چې په کندهار ولایت کې د دې عملیاتو په ترڅ کې څومره ورانکاري شوي دي. په دغه فلم کې په پنجوایي، ژیړې او ارغنداب ولسوالیو کې هغه سیمې ښودل شوي چې د امید عملیاتو په ترڅ کې زیانمنې شوي دي.

دا په داسې حال کې ده د کندهار سمه ییز چارواکي وایي چې دا عملیات په بشپړه توګه د سیمې له خلکو سره په همغږۍ ترسره شوي او هغه ارقام چې د افغان دولت د یوې سروې له مخې ورکړل شوي دي له مبالغې نه ډک بولي.

په کندهار کې د ناټو ځواکونو قومندان جیمز تیري په همدې حال کې وایي چې دوی به له هغه کسانو سره چې په دغو عملیاتو کې زیانمن شوي دي، له هغوی سره د یو اعشاریه څلور میلیونه ډالره مرسته وکړي، خو ایا دا مرسته به له هغوی سره د هغوی د کروندو د حاصلاتو ځای ونیسي نه هېڅکه هم نه، ځکه چې داسې مرستې هیڅکله هم اړو کسانو ته نه رسي، ځکه په سیمه کې هغه خلک چې داسې مرستو ته یې زړه ښه کړی وي همدوی دي چې په سیمه کې نا امني جوړوي، همدوی دي چې بیا د داسې عملیاتو غوښتنه کوي او همدوی دي چې داسې مرستې هم د زیانمنیدو په بانه اخلي او خپله ورته د یوې زرې زیان هم نه وي اوښتی.

رابه شو دې ته چې داسې عملیات څه وخت بریالي کېدای شي؟

باید ووایو چې هغه وخت دغه عملیات په بریالی توګه سرته رسېدلی شي چې د خلکو ټولې غوښتنې او دیني او ملي ارزښتونه په پام کې ونیول شي او په رښتني توګه داسې عملیات ترسره شي چې په هغو کې یوازې د جګړې د هدف لوري ته په کې زیان واوړي، نه بې ګنا ملکي وګړو ته. خو له بل پلوه ۳مخ

په ننګرهار کې پر نشه یي توکو روږدي خلک د درملنې امکانات او د اخته کېدو لاملونه یې

ساحل ساپی

اراده، ننګرهار، - د هېواد د یو شمېر نورو ولایتونو په څېر په ننګرهار کې هم یو شمېر تنکیو زلمیانو نشه یي توکو ته مخه کړې او د اکثرانو وایي چې ژوږ دبدل ببلابېل عوامل لري. د ننګرهار د عامې روغتیا ریاست د معتادینو په څانګه کې شل بستره د دغو معتادو زلمیانو د درملنې لپاره جلا کړي دي.

په دغه څانګه کې پرځوانانو سربیره، بوډاګان او تنکي زلمیان هم د حلقې په شکل سره ناست وي او موسیقي غږوي، د دې په خواکې ورته نور ډول ډول تفریحي پروګرامونه هم شته، چې د مسئولو اکثرانو له خوا یې درملنه کېږي.

د دغو کسانو له ډلې څخه یو هم د لعل پوړې ولسوالۍ اوسېدونکی شیرین اغا دی، چې ژوږ زېښلی رنګ لري او د روغتون جامې یې پرغاړه وي.

شیرین اغا وایي، نشه یې بده ګڼله، خو اوس یې د خپلو نااهله ملګرو له کبله پوډرو ته مخه کړې او د خپلې کورنۍ په ګډون خپل خپلوان ټول ورځخه کرکه کوي: ((نشه ډېر بد کار دی، هېڅوک نه غواړي چې خپل عمر داور په سرو لمبو کې تېر کړي. ملګرو مې پوډر څکول او زه یې هم د دې ته وهڅولم چې په دې کار کې یې ملګرتیا وکړم. اوس مې د خدای (ج) له دې بلا څخه خلاص کړي.)) نوموړي چې د څو ماشومانو پلار دی وایي: ((هلکان مې له مجبورۍ نه کار کوي. اوس مې د کلیوالو اوخپلوانو له ډېرو پېغورونو وروسته هوډ کړی، چې خپله درملنه وکړم، څو یو نبه ژوند او روغ صحت ولرم.))

سیدمحمد، چې له کاپیسا ولایت نه د ننګرهار د عامې روغتیا روغتون د معتادینو ځانګې ته راغلی او په خپله یې د درملنې هوډ کړی وایي: ((ژوند مې نبه جوړ و، د اناروکاروبار مې کاوه، هېڅ ډول نشه مې نه پېژندله او نه مې کومه نشه کړې وه. یوه ورځ مې ملګرو په ډېر ټینګار د چرسو په نامه یو څه راکړل، چې له هماغې ورځې مې په بدن دردونه لګېدلي.))

نوموړي په ژړه غوني غږ کې ارادې ته داسې وویل: ((له کومې ورځې مې چې کورنۍ رابانده خبره شوې، د یوې روپۍ باور هم رابانده نه کوي. ډېرې وخت داسې هم شوي، چې له کور څخه مې په پټه د پوډرو د رانیولو لپاره هرڅه چې لاسته راغلي وړې مې دي.))

له ناسمو ملګرو سره پر ناستې ولاړې سربېره یو شمېر خلک په کورونو کې خپلمنځي شخړې او اقتصادي ستونزې هم هغه څه ګڼي، چې له کبله یې ډېرې ځوانان او د کورنۍ مشران لاره ورکوي، بیا مخه نشو ته کوي او دا د حل لاره ګڼي.

دشینوارو د اچین ولسوالۍ اوسېدونکی سپین غر چې د یوولسم ټولګي زده کوونکی دی له ورته ستونزې یې د پوډرو څکولو ته مخه کړې. هغه وایي: ((د کورنیو ستونزو له کبله مې له ښوونځي نه زړه تور شو. دا کار د دې سبب شو، چې سګرټ وڅکوم او اوس ۳مخ

تطبیق دموکراسی غربی در ...

اعلام کند، گفت: این منطقه به هیچ وجه نباید به طور کامل به بی ثباتی کشیده شود؛ چرا که این مسأله دارای پیامدهای سیاسی و امنیتی خواهد بود که دامنهٔ آن تا غرب اروپا نیز می‌رسد.

گوتنبرگ در ادامه یادآور شد که همسایهٔ غربی افغانستان کشور ایران است و همسایهٔ شرقی این کشور نیز پاکستان است و این خطر وجود دارد که سلاح های هسته یی آنها به دست "افراطیان" بیفتد. وزیر دفاع آلمان قول مساعد داد که در آینده هر دو ماه یکبار در مورد وضعیت افغانستان و سربازان این کشور صحبت داشته باشد.

وزارت دفاع آلمان علاوه بر این گفت، از پشت میز و در برلین رسیدن به چنین هدفی میسر نیست. وی بار دیگر خاطر نشان ساخت که به همراه همسرش، اشتفانیه طی روزهای آینده در تعطیلات به افغانستان سفر خواهد کرد. گوتنبرگ و همسرش قبل از این نیز، به افغانستان سفر کرده بودند. این سفر با اعتراضات گسترده‌یی در رسانه های آلمان و همین طور بین احزاب مخالف همراه بود.

افزایش حملات انتحاری و ...

در ولایات یادشده، چهارحملهٔ انتحاری صورت گرفته است، در حالی که هفتهٔ ما قبل آن، یک حملهٔ انتحاری به وقوع پیوسته بود. بشری همچنان علاوه کرد که در هفتهٔ گذشته، ۴۵ مخالف مسلح به قتل رسیده، ۳ تن مجروح شده و ۱۴۲ تن دیگر، از سوی پولیس بازداشت گردیده اند. به اساس معلومات بشری، در تلفات مخالفان مسلح، نسبت به هفتهٔ ما قبل آن، ۱۰ درصد کاهش رونماگردیده است.

درهمین حال به گفتهٔ منبع، طی هفته یی که گذشت، در رویدادهای مختلف، ۱۴ پولیس کشته شده و ۳۷ تن مجروح گردیده اند که آمار تلفات پولیس ۱۴ درصدکاهش را نشان می دهد. وی علاوه کرد که در هفتهٔ گذشته، ۷۲ حملهٔ تخریبی در سراسرکشور رخ داده که بیشترین آن در ولایات کنر، قندهار، ننگرهار و هلمند می باشد. موصوف گفت که در پیوند به این قضایا، ۱۴۱ تن مظنون بازداشت گردیده اند. وی همچنان افزود که در این مدت، ۱۰۲ واقعهٔ جرایم جنایی در سراسرکشور رخ داده که ۴۵ واقعهٔ آن، از سوی پولیس کشف گردیده است. به گفتهٔ بشری، ۴۹ متهم در ارتباط به واقعات جرمی و جنایی بازداشت گردیده که این هم نسبت به هفتهٔ ماقبل آن، ۲۹ درصدکاهش را نشان می دهد.

ادامهٔ تظاهرات شهریان هرات ...

شماری از مهاجران افغان در ایران را محکوم کردند.

مقام های ایرانی می گویند که این تیل به نیروهای خارجی در افغانستان می رسد و دولت افغانستان باید مقدار تیل را معین سازد، تا آن کشور اجازهٔ توزید آنرا بدهد.

اما دولت افغانستان، این خواست ایران را رد کرده و اتاق تجارت افغانستان توقف تانکرها را خلاف قوانین ترانزیت خوانده و به ایران هشدار داده که اگر به تانکرها اجازه ندهد، تاجران افغان روابط تجارتی را با آن کشور قطع خواهند کرد.

د امید عملیات نه نوم او ...

افغان شنونکي په دې اند دي چې که چېرته د دولت له وسلوالو سره خبرې پیلېږي، نو داسې عملیاتو ته بیا څه اړتیا ده او د دې پر ځای چې له هغوی سره جګړه وکړي هغوی دې د سولې روان بهیر ته راوبولي او له چیرته داسې عملیات نور هم دوام وکړي، نو خلکو ته به زیات زیانونه واوړي او له بل پلوه به د دولس او دولت تر منځ درز رامنځته شي او خلک به نور له دولت سره پرېکون وکړي.

په ننګرهار کې پر نشه یې توکو روږدي ...

پنځه کاله وروسته خبره پوډرو ته رسېدلې ده. ټول خلک راباندې بد وایي او په کلي کې په پوډري مشهور شوی یم.))

د ننګرهار د عامې روغتیا روغتون رییس ډاکټر باز محمد شهرزاد وایي، پر نشه روږدو کسانو لپاره د ټول ولایت په کچه بېلابېل پروګرامونه او شل بستریز واټ لري، چې د روږدو کسانو درملنه په کې کېږي: ((د دې ترڅنګ ځینې د عامه پوهونې پروګرامونه دي، چې د ملا امامانو او د کلیو د مشرانو په مرسته یې مخته وړو. د معتادینو د انتظار په لېست کې په سګونو ناروغان لرو، چې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه راغلي دي او تر سلو ډېر یې تداوي شوي هم دي.))

د ډاکټر شهرزاد په وینا، د عامې روغتیا وزارت ته یې وړاندیز کړي، چې ورته په یاده برخه کې د بسترونو شمېر زیات کړي، چې د ټولو په نشه روږدو کسانو درملنه په وخت ترسره شي. هغه وایي: ((دا یوه کامیابه پروسه ده، ځکه خو له یو شمېر نورو ولایاتونو هم خلک پر نشه روږدي کسان د درملنې په موخه راولي.))

پر نشه د روږدو کسانو په منځ کې ډېر یې داسې کسان دي، چې په ایران او پاکستان کې معتاد شوي دي.

ضیالدین یوله هغو کسانو څخه دی چې د مزدورۍ لپاره ایران ته تللی، هغه وایي: ((په ایران کې کارونه ډېرسخت اوسترې کوونکي وو، ددې لپاره چې ډېر کار وکړم د کار په وخت کې به مې تریاک خوړل، خو اوس ډېر وخت کېږي چې پوډر څکوم.))

دننګرهار په عامې روغتیار وغتون کې دایوازې بنې شل بستریز روغتون دي چې د معتادینو لپاره ځانګړی شوی او د بېلا بېلو نشه روږدو کسانو درملنه په کې په وړیا توګه کېږي، ددې روغتون چارواکي او ولسي خلک په یوه مهال د ډېرو معتادینو راتګ او دلته کم ظرفیت هغه څه ګڼي چې په خبره یې بسنه نه کوي اوپه کاده چې د دې روغتون د بسترخونو شمېر ډېرشي، داپه داسې حال کې ده چې ننګرهار ته د شنبې پر ورځ له نشه یي توکوسره د مبارزې وزیر ضرار احمدمقبل په خپل راغلي رسمي سفر کې په یوخبرې کنفرانس کې د معتادینو د درملنې لپاره د یوه ځانګړي روغتون د جوړولو ژمنه هم وکړه. نوموړي د دې خبرې په اړه نورجزیات ورنه کړل او دا پوښتنې یې بې ځوابه پرېښودې چې چې یاد روغتون به کله، چېرته، په څومره لګښت جوړ او پر نشه روږدو کسانو د درملنې لپاره به د بسترڅوخونې ولري، داچې د معتادینو لپاره د درملنې له دې کمو امکاناتوسره به دا ژمنه یوازې ژمنه پاتې اوکه به د هغومعتادینو لپاره چې درملنې ته اړتیا لري د درملنې یوه بله کړکۍ پرانیستل شي، هغه پوښتنه ده چې ځواب یې وخت ته اړتیا لري.

لویې څارنوالی تېرې تاکنې یو ...

ځانګړې محکمې د تاکنیزو شکایتونو پر څېړلو کار کوي.

د افغانستان په بیلا بیلو ولایتونو کې سلګونو معترضو کاندیدانو د دغې محکمې له جوړېدو ملاتړ کړی او له افغان دولت څخه یې غوښتي، چې دغې محکمې ته د کار لپاره ډېر وخت ورکړي.

ناراضو کاندیدانو له افغان حکومت څخه غوښتي، د ځانګړي محکمې تر پایه دې نوې ولسي جرګه نه پرانیزي.

تاکل شوې ولسمشر کرزی په راتلونکې اوونۍ کې د افغانستان نوې ملي شورا پرانیزي.

دازادي راډیو د راپور له مخې، تر دې مخکې ویل شوي وو، چې نوې ملي شورا به د سلواغې پر لومړۍ نیټه پرانیستل شي، خو د سلواغې لومړۍ نیټه د جمعې ورځ او د افغان ولسمشر سفر روسیې ته د دې سبب شو، چې پر درېیمه نوې ملي شورا پرانیستل شي.

بل خوا بریالیو اعلان شویو کاندیدانو ته له ولسي جرګې سره د پیژندګلوی اوونیز پروګرام هم پیل شوی دی او دوی د نوې ملي شورا د ژر تر ژره پرانیستلو غوښتنه کوي.

بنګلو نجونو ته کتل روغتیا ته ...

د محصلانو د کور تېزول کچه له ۵ دقیقو وروسته په ډېره حیرانونکې توګه لوړه شوې وه او دا ډېرښت تر دې بریده و، چې امکان یې د رلود پر محصلانو د زړه حمله راشي، یانې دا چې د دې هورمون په له اندازې زیات ډېرښت د دې کېدون شته چې یو انسان په خپل سر د زړه پر ناروغۍ، د پښو د عضلو په سستوالي (د غوږګو تښتېدل)، د وینې په لوړ فشار او ضعف کېدلو اخته شي چې دا ټولې مرګونې ناروغۍ دي.

خو یاده دې وي چې د دې هورمون طبیعي ډېرښت په بدن مثبت اغېزې لري او د ټول بدن د روغتیا کچه پیاوړې کوي.

کراچی در اوج خشونت های قومی

در ۲۴ ساعت گذشته ۲۸ تن کشته شدند

حوادث خشونت‌بار و قتل‌های برنامه‌ریزی شده در شهر کراچی، ۲۸ کشته بر جای گذاشت.

کشته شدن ۹ نفر از جمله یک دختر چهار ساله در منطقهٔ اورنگی تاون کراچی پاکستان این منطقه را به مرگبارترین نقطهٔ شهر تبدیل کرده است.

بر گزارش فارس نیوز، پنجشنبه شب گذشته مردان مسلح نا شناس سوار بر موترسایکل، یک گزارشگر تلویزیونی به نام «ولی خان بابر» را در مقابل دفتر پولیس شهر «لیاقت آباد» هدف گلوله قرار داده و از پای در آوردند. اقبال کشمیری یک دگروال متقاعد اردوی پاکستان که در گذشته پیلوت هلیکوپتر سید قایم علی شاه وزیر اعلای ایالت سند نیز بوده است نیز، توسط افراد مسلح نا شناس در منطقهٔ رابعه سیتی، به قتل رسید. رحمان ملک وزیر داخلهٔ پاکستان در همین راستا اعلام کرد: یک قدرت ثالث در افزایش حملات خشونتبار هدفدار در کراچی دست دارد و به زودی نام آن اعلام می‌شود و ما اجازه نمی دهیم، صلح در کراچی به خطر بیفتد.

رحمان ملک بار دیگر با سرزنش و مقصر دانستن نیروی ثالث اظهار داشت: این نیرو از اختلافات لفظی بین احزاب سیاسی در پاکستان سو استفاده می کند. در همین راستا با افزایش حوادث خشونت آمیز و کشته شدن ۲۸ تن در پی این حوادث، وزیر داخلهٔ پاکستان روز گذشته وارد کراچی شد.

وی در این سفر با رهبران احزاب سیاسی و مذهبی پیرامون وضعیت ناپایه دار صلح در منطقه دیدار و مذاکره خواهد کرد. رحمان ملک جمعه شب اعلام کرد که وی با اسفندیار ولی یکی از رهبران حزب ملی عوامی و همچنین الطاف حسین رییس جنبش متحدهٔ قومی تماس گرفت و این دو پذیرفتند از اظهارنظر علیه یکدیگر خودداری کنند.

مناطق اصلی شهر کراچی شامل کورنگی، ملیر، خواجه اجمر، نگری و بنارس در معرض بیشترین ناآرامی و حوادث خشونت‌آمیز بوده‌است.

شهر کراچی پاکستان، سابقهٔ طولانی در خشونت های قومی، مذهبی و فرقه یی دارد. اما صدها مورد کشتار در سال گذشتهٔ میلادی، این نگرانی را به وجود آورد که شاید خشونت‌های فزاینده به دردسری تازه برای دولت مرکزی تبدیل شود.

بعضی از تحلیلگران سیاسی، مسوولیت بخش عمده‌یی از خشونت‌ها را متوجه رقابت میان دو حزب اصلی این منطقه از پاکستان، یعنی جنبش متحده قومی و حزب عوام ملی می دانند. سابقهٔ درگیری میان جنبش متحدهٔ قومی که نمایندهٔ اکثریت مهاجران اردو زبان است و حزب عوام ملی که اقلیت رو به رشد پشتون را نماینده گی می‌کند، به سال‌ها پیش باز می‌گردد و خشونت های قومی به بالاگرفتن کشتارهای تلافی جویانهٔ اعضای دو جزب می انجامد. خطر مرگ روز به روز در جاده های شهر کراچی، مرکز فعالیت‌های اقتصادی کشور پاکستان در حال افزایش است و این در حالی است که نیروهای امنیتی نیز در مهار و پایان دادن به قتل های هدفدار و برنامه ریزی شده در این شهر ناتوان هستند.

د پکتیاوال د سون او خوراکي توکو د بیو له لوړوالي سر ټکوي

د پکتیا اوسېدونکي د سون او خوراکي توکو د بیو له لوړوالي سر ټکوي او له دولت څخه غوښتنه کوي، چې د ایران له لوري د تېلو د درول شویو ټانکرو په اړه دې کوتلې هڅې پیل کړي.

د پکتیا ګڼ شمېر اوسېدونکي د سون او خوراکي توکو د بیو لوړوالی د ایران له لوړې د تېلو د ټانکرو د ترانزیټ مخنیوی او د لارو خرابوالی بولي.

په ګردیز ښار کې د خوراکي توکو پلورونکي رازمحمد وویل، چې د وړو، وریجو او غوړیو په بیو کې ځکه لوړوالی راغلی، چې توکي یې له پاکستان سره په پوله د کرایو د لوړوالي له امله پر ځای پراته دي.

نوموړي زیاته کړه: ((د ژوند ټولې اړتیاوې لکه خوراکي توکي، ګاز، لرګي او داسې نور په موټرونو کې راوړل کېږي او که د تېلو بیې لوړې وي په هرڅه اغېز کوي.))

په ګردیز ښار کې لرګي پلورنکي حبیب الله وویل، چې د لرګیو بیې د ژمي په رارسېدو هره ورځ پورته کېږي او وایي. چې دا مهال یو خروار لرګي په ۵۰۰۰ افغانۍ پلورل کېږي، چې نژدې یوه میاشت وړاندې په ۳۰۰۰ افغانۍ پلورل کېدل.

نوموړي له حکومت څخه غوښتنه وکړه، چې د ایران د دغه عمل پر وړاندې جدي غبرګون وښیي، تر څو له میلیونو تنو سره مرسته وشي.

د ګردیز ښار دګازو یو دوکاندار، ګل الرحمن پڑواک ته وایي، چې په دې وروستیو کې د ګازو بیه د تېر پر خلاف دوه برابره پورته شوې او وایي: ((دې میاشتې وړاندې یوه کېلو ګازه په (۳۶) افغانۍ او اوس په ۶۵ افغانۍ پلورل کېږي.))

بی عدالتی و فقر در افغانستان بیداد می کند، راه حل چیست؟

کاندید اکادمیسین سیستانی



هموطنان با احساس وبا درد و با درک افغان بخوبی می دانند که کشور ما افغانستان از سی سال بدینسو در آتش جنگ های قدرت طلبی و برتری جویی عده یی از انسان های خودخواه و بی رحم و قسی القلب وابسته به اجانب سوخته می رود. بر اثر این خود خواهی ها، وقدرت طلبی ها، اکنون شیرازهٔ وحدت ملی از هم پاشیده است. کشورهای طماع همسایه توسط اجنت ها و گماشته گان خود به این تفرقه ها دامن می زنند. و با استفاده از حربهٔ زبان، قوم، نژاد و مذهب، مردم را به انواع تفرقه های ملی به جان هم انداخته اند و خود با استفاده از قدرت بر ثروت و دارایی ها ی خود در بانک های خارج افزوده می روند. درحالیکه اکثریت مردم به نان شب خود محتاج اند. ناامنی، دزدی، تجاوز برکودکان و اختطاف دختران و نوجوانان برای باجگیری از سوی باندهای قاچاق مواد مخدر از مرکز تا ولایات بیداد می کند. غصب ملکیت های شخصی و زمین های دولتی و ثروت های طبیعی از سوی زورمندان و بنیاد شهرک های خصوصی برای کسب منفعت شخصی توسط جنگسالاران در کابل، بلخ، هرات، بامیان، ننگرهار وغیره شهرهای کشور اظهر من الشمس است. مراجع شکایات و بازخواست و عدالت از تطبیق قانون بر زورمندان عاجز اند. تقلب در انتخابات پارلمانی و شکایات گستردهٔ کاندیدان پارلمان به مراجع ذیصلاح با تظاهرات دادخواهانه در شهرهای کابل، هرات، سمنگان، جلال آباد، غزنی، خوست و سایر شهرهای کشور و زورگویی مقام های مسوول در این زمینه به مرز افتضاح رسیده است.

اختلاس و رشوه خواری و اخاذی در تمام سطوح و مقام های کشور، افغانستان را به حیث کشور فاسد در جهان رقم زده است. میلیارد ها دالر کمک های جامعهٔ بین المللی برای دوباره سازی و احیای مجدد افغانستان، بجای مصرف در پروژه های عام المنفعهٔ زراعت و آبیاری و صحت عامه و معارف و انکشاف صنایع و ایجاد کارخانه های تولیدی به منظور اشتغال برای مردم بیکار و فقیر، بدبختانه در راه هایی به کار گرفته می شود که بخش عمدهٔ آن پول ها در حساب خصوصی وزرای رشوتخوار و فاسد می ریزد و بنابر این، فقر و بیکاری، بی خانه گی، گرسنگی، بی غوری و بی بازخواستی، حق تلفی و بی بند و باری در کشور روز تا روز بیشتر شده می رود و وطن را در سراشیبی سقوط و زوال قرار داده است. این درحالی است که برخی ازعناصر اجیر و گماشته شده از سوی کشورهای خارجی مصروف تعمیق افتراق قومی، زبانی و مذهبی به منظور برهم زدن وحدت ملی و اشتعال یک جنگ داخلی اند، تا آنجا که خاینانه آوازه های تجزیه طلبی را به وسیلهٔ سایت های انترنتی مزدور، زمزمه می کنند.

با وجود حضور ۴۸ کشورجهان به منظورسرکوب افراطیان و تامین امنیت، نه تنها مردم افغانستان از امنیت برخوردار نیستند، بلکه از لحاظ معیشتی وفقدان مواد مورد ضروت اولیهٔ خود نیز شدیداً دچار تنگدستی هستند. اخیراً موسسهٔ غیردولتی "تحقیق و ارزیابی افغانستان" در گزارشی اعلام کرد: بیش از ۷۰ درصد افغان ها با بحران غذایی رو به رو هستند و ۳۶ درصد آنان با خطر قحطی مواجه هستند. "پالا کانتور" رییس این موسسه با اشاره به افزایش فقر و تنگدستی در افغانستان اظهار داشت: مردم قریه ها بیش از شهرها از این وضعیت رنج می برند.

به گزارش سازمان ملل متحد اکنون در حدود ۲۰ میلیون افغان زیر خط فقر قرار دارند و بیش از ۹ میلیون با گرسنگی و مرگ حتمی رو به رو اند. به همین خاطر، این سازمان برای نجات مردم گرسنهٔ افغانستان در سال جاری مبلغ ۶۵۰ میلیون دالر کمک از جامعهٔ بین المللی تقاضا نموده است، تا هر چه زودتر به دسترس گرسنه گان و قحطی زده گان افغان برساند.

از لحاظ اجتماعی مردم در افغانستان به دو طبقهٔ مشخص تقسیم شده اند: یکی اقلیت ثروتمند مسلط بر سرنوشت مردم و دیگری توده های فقیر گرسنه و هر دم شهید که به نان شب خود محتاج اند. طبقهٔ ثروتمند همانا جنگسالاران و رهبران تنظیم های جهادی و قوماندانان و والیان و برخی از وزیران و تاجران و قرارداد کننده گان پروژه های عمرانی و گروه های مسلح غیرمسوول و مافیای مواد مخدر و غاصبان ملکیت های دولتی و دارایی های عامه می باشند که هرگز در فکر مردم فرو دست جامعه نیستند.

امروز اکثریت مردم در افغانستان در وضعیت بسیار بد اقتصادی، یعنی با فقر، بیکاری و بی امنیتی دست و گریبان اند. صدها و هزاران خانواده از بیجا شده گان و آواره گان داخلی برای نجات از بمباردمان های نیروهای خارجی مجبور به ترک خانه و کاشانهٔ خود شده اند و در اطراف شهرهای بزرگ از جمله در اطراف کابل، در زیرخیمه های مندرس، بدون داشتن غذا، دوا و پوشاک در این زمستان سرد انتظار مرگ را می کشند. مگر دولت بدون توجه به حال زار این مردم، ۲۸۰ میلیون دالر را به منظور فریب اذهان عامه، به جیب یک عده از جنایتکاران جنگی می ریزد.

چندی قبل مرکز مطالعات سیاسی "کاتهم هوس" در لندن اعلام کرد، بی عدالتی های مقام های افغانستان و جامعهٔ بین المللی، به آتش شورش های طالبان در افغانستان دامن زده و خطر جدی استراتیژیک را به میان آورده است. این نهاد می گوید، غضب ملکیت های مردم در افغانستان توسط افراد زورمند، انزوای سیاسی رقبای حزبی و قومی، دستگیری های خودسرانه و غیره از جمله دلایلی است که مردم را، به پیوستن با طالبان وا می دارد. کاتهم هوس، خبرمی دهد که فقدان عدالت و استفاده جویی مقام های محلی همچنان، به طالبان کمک کرده است، تا دامنهٔ فعالیت های شان را در خارج از محلات تحت نفوذ شان، گسترش دهند. گزارش همچنان مقام های ارشد افغان را به دلیل عفو جنایتکاران و قاچاقبران مواد مخدر که با افراد قدرتمند پیوند نزدیک دارند، متهم به قانون شکنی کرده است. بر اساس اسناد افشا شده توسط ویکی لیکس، رییس جمهور افغانستان فرمان آزادی چندین جنایتکار خطرناک و قاچاقچیان مواد مخدر را داده است، افرادی که توسط نیروهای دولتی و ایتلاف دستگیر شده بودند .

ستیفن کارتر، یکی از تهیه کننده گان این گزارش گفته است: افزایش شورش های طالبان در ۹ سال گذشته که دلیل اصلی آن بی عدالتی و سو استفاده از قدرت می باشد، ایجاب می کند که حکومت افغانستان و شرکای بین المللی اش، به هدف برقراری ثبات درازمدت، روی آن تمرکز کنند. عدالت و حاکمیت قانون را نباید نادیده گرفت، زیرا عدالت، از نظر اخلاقی و بشری ضروری است و برای منافع استراتیژیک هم، نقش حیاتی دارد.

(رادیو آزادی،۱۲/۱۶/ ۲۰۱۰)

بنا براین، برای نجات از این همه نابسامانی ها و بدبختی ها و سرانجام برای جلوگیری از سقوط و زوال کشور، بسیار ضروری است، تا بیشتر روی تشکیل یک حکومت ملی و حمایت از آن در داخل کشور توجه شود.و افراد مصمم، با اراده، صادق و پاک نفس و وطندوست روی صحنهٔ قدرت آیند. بجای تکیه بر جنگسالاران و قاچاقچیان مواد مخدر و اختلاس گران و رشوه خواران، به شایسته سالاری اهمیت داده شود و کابینه یی از صادق ترین و فعال ترین عناصر وطنخواه تشکیل گردد و توسط این کابینه، کمک های جامعهٔ بین المللی در مسیر درست و معقول آن به خصوص در بخش زراعت و آبیاری و توسعهٔ صنایع ملی و صحت عامه و معارف به کار انداخته شود، بدون شبهه مردم ما به زودی از فقر و گرسنگی و آواره گی دایمی نجات داده خواهد شد.

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده یازدهم : هـ - حق استفاده از بیمه های اجتماعی بخصوص در هنگام بازنشسته گی، دوران بیکاری، هنگام بیماری و ناتوانی و دوران پیری و در سایر موارد مشابه و نیز حق استفاده از رخصتی استحقاقی.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپانه پې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی ارادہ
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com